عبدالباری جهانی ۲۰۲۱/۰۷/۰٦

# راجا مهیندرا پراتاپ سنګهه او د هغه خاطرات

«لومړۍ برخه»

هند خو هسي هم د نوابغو، فيلسوفانو، حماسو، سترو شاعرانو، سياسي مبارزينو، جنرالانو او حوادثو مځکه ده، خو ځيني کسان يي د افغانستان د ډيرو حساسو تاريخي شرايطو او انقلابونو سره داسي اړه لري چي د ژوند او خاطراتو په باب معلومات يي د افغانستان د تاريخ، په تيره بيا ځوانو، څېړونکو لپاره بې ګټي نه دي.


*راجا مهیندرا پراتاپ سینګه*

يو له دې کسانو څخه راجا مهيندراپراتاب سينګه دی چي په ۱۸۸۶ کال کي د اُتار پردېش په ايالت کي زيږيدلی او له تنکی ځوانی څخه يي، د خپل ذاتي انقلابي روح په حکم، د هند د منفور طبقاتي سستم په مقابل کي، چي د ده په عقيده، د انسانانو ظالمانه او حتی توهينونکی وېش وو، مبارزه پيل کړه. په نهه کلنی يا لس کلنی کي، د خپلي کورنی او محيط د ټولو غوښتنو او معيارونو په خلاف، د مسلمانانو د عليګړ هه ښوونځي ته شامل سو؛ هلته يي د مسلمانو ښوونکو څخه درسونه ولوستل او له همدغه ښوونځي څخه فارغ سو.

له مهاتماګاندهي سره، د برتانوي استعمار پر ضد مبارزې په لړ کي، جنوبي افريقا ته ولاړ او ناکراره روح يي په هيڅ ځای کي ارام نه ورکاوه. بالاخره په ۱۹۱۴ کي، د اته ويشتو کالو په عمر، اروپا ته ولاړ، څو هلته له هندي محصلينو او منورينو سره، چي د برتانيي د استعمار پر ضد يي مبارزه روانه کړې وه، يو ځای سي. د هند مشهور ځوان مبارز ويريندرا چاتوپاريا، چي دا وخت په جرمني کي اوسېدی، او د جرمني له ډېرو لوړو مقاماتو سره يي پېژندل، له سويس څخه، جرمني ته د ورتللو بلنه ورکړه. په جرمني کي يي د چاتو پاريا په مرسته د امپراطور کيزر دوهم ويلهلم سره ملاقات وکړ. د جرمني امپراطور پر هند باندي


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

د افغانستان له لاري د حملي کولو او د ترکيي او جرمني په ګټه، په لومړي نړی وال جنګ کي د افغانستان د شاملولو پلان درلود. د ۱۹۱۵ کال د اپرېل په میاشت کي يې د جرمني ډيپلوماټ وان هينتيګ، مولوي برکت الله او نورو سره يو ځای له برلين څخه د افغانستان پر لور حرکت وکړ.

مهيندرا پراتاپ د افغانستان په ډيرو بحراني حالاتو کي د دې هيواد له پيښو او اشخاصو سره په تماس کي وو او د لومړي نړی وال جنګ له پيل څخه د دوهم نړی وال جنګ د پيل تر کلونو پوري يې د افغانستان په پاسپورټ سفرونه وکړل. له جاپان څخه تر اروپا او امريکا پوري په هر هيواد او هر کنفرانس کي يې د افغانستان نوم ياد کړ. دې هيواد ته يې د سياسي او اقتصادي مرستو د جلبولو او په افغانستان کي د پانګي اچولو ګټو ته د نورو هيوادونو د متوجه کولو لپاره هلي ځلي وکړې او په دې يې افتخار کاوه چي په ځينو ورځپاڼو کي د يوه وطن پالونکي افغان په نامه بلل سوی وو. راجا مهيندرا پراتاپ په ۱۹۷۹ کال کي د ۹۳ کالو په عمر په هند کي وفات سو. په خپل لالهانده، هدفمند او له ثمره ډک ژوند کي يې دومره افتخارات ګټلي وه چي تر څو هند ژوندی وي د ده نوم به يې د تاريخ د ځلاندو ستورو سره يو ځای ځليږي.

مهيندرا پراتاب په ۱۹۴۱ کال کي « زما د پنځوس کلن ژوند کيسه» په نوم يو مفصل کتاب وليکی او په هغه کي يې له حوادثو څخه د خپل ډک ژوند بيان کړی دی. دا کتاب، زيات وکم پنځه ويشت کاله مخکي، ما د امريکا د کانګريس له کتابخاني څخه اخيستی او ځيني هغه برخي مي چي له افغانستان سره اړه لري ورڅخه فوټو کاپي کړي وې. ايله اوس مي ورپام سو چي له خپلو لوستونکو سره يې د ترجمي خلاصه، يعني هغه برخه چي زموږ له تاريخ سره اړخ لګوي، شريکه کړم. که څه هم چي په دې خاطراتو کي به چنداني نوي خبري نه وي خو د تاريخ د شاګردانو لپاره بې ګټي هم نه دي.

مهيندرا پراتاپ، د خپل کتاب په مقدمه کي، د مذهب، حکومت او ټولني په باب، خپل عقايد داسي بيانوي:

« ...ټول مذهبونه هر يو د داسي افکارو او نظرياتو څخه جوړ دي چي بشريت ته د انسانانو د ښېګڼي په ګټه لارښودني کوي. مذهبونه ځکه توپير سره لري چي په مختلفو وختونو او مختلفو محيطونو کي منځته راغلي دي. دوی په دې خاطر توپير سره لري چي د بېلو بېلو قومونو د روحي قناعت لپاره ايجاد سوي دي. زه وايم راسی هغه بهترينه مذهبي نسخه چي د اکثريت انسانانو له عقيدې سره جوړه وي انتخاب کړو او کار ورڅخه واخلو. د مذهب مطلب او هدف زموږ د روحي روغتيا او صحت ساتل دي. زه له هيڅ مذهب سره اختلاف نه لرم. زما مذهب د ټولو مذهبونو وحدت دی. زما مذهب د ميني مذهب دی»


برای ارسال مقالات به روی لينک ذيل کليک نمائيد!
info@arianafghanistan.com

« زما سياسي عقيده: حکومتونه، که واړه دي که لوی دي، بايد کوښښ وکړي چي په خپل پراخ او اوړه قلمرو کي سوله وساتي. خو د نني ورځي ډېر زيات حکومتونه د سولي ډېر سخت دښمنان دي. دوی د لويو غلو او لويو داړه مارانو په څېر عمل کوي؛ او تل يې دا هڅه وي چي د ګاونډيانو پر خاورو باندي حملې وکړي. زما په عقيده د دې علت دا دی چي بې تربيې خلکو او د ټولني تر ټولو بدو خلکو د حکومتونو واک په لاس کي اخيستی دی او د خپل واک څخه بده استفاده کوي. دوی چي قدرت ته ورسيږي نو له غلو او داړه مارانو څخه کار اخلي او د هغوی پر بازو باندي تکيه کوي. زه په دې عقيده يم چي موږ بايد پر دې ټکي باندي تاءکيد وکړو چي حکومت د خپلو هيوادونو تر ټولو بهترو کسانو ته وسپارو چي زموږ بهتر خدمت وکړای سي. دوی بايد د خلکو شته منيو ته سترګي خړي نه کړي. دوی بايد د ځانونو د شته من کېدلو په غم کي نه وي. د دوی هدف بايد د خپلو خلکو ښېګڼه او هوسايي وي. دوی بايد خپل ځانونه د بشريت چوپړ ته وقف کړي. دوی بايد کوښښ وکړي چي بشريت خوشاله وساتي. ما د خوښۍ ګوند په پروګرام کي دا مسله په بشپړ تفصيل څېړلې ده»

« زما درک له ټولني څخه: زه د بشريت پر وحدت باندي عقيده لرم. زه په دې عقيده يم چي ټول نارينه او ښځي د ښه ژوند کولو مساوي حق لري. هغه کسان چي عقل او تعليم يې تر نورو زيات دی او يا طبيعت يا بشري ټولني نور امتيازات ورباندي پېرزو کړي دي بايد چي د نور بشريت لپاره کار ورڅخه واخلي. ټول هغه کسان چي خپل خدای ورکړي استعدادونه او يا د ټولني له خوا ورکړل سوي مقامونه د خپلو شخصي ګټو لپاره استعمالوي هغوی ګناهکار مختلسين دي. زه هيله لرم چي موږ ټول دا حقيقت درک کړو او داسي شرايط منځته راوړو چي دغه حقيقت اوږد ژوند ولري او د افرادو او ډلو د شيطاني او ځان غوښتني د حرص له حملو څخه يې وساتو. زه فکر کوم چي که کار اهل کار ته وسپارل سي او د هغوی له استعدادونو څخه د ټولو خلکو په ګټه کار واخيستل سي نو د ټولو شخصي اختلافاتو او جګړو مخه به مو نيولې وي. او که دا ټولي موجودي ډلي په يوه لوی نړی وال تنظيم کي را غونډي کړو نو د ډلو ترمنځ به مو د جګړو علت له منځه وړی وي...»

## زما د پنځوس کلن ژوند کيسه: ترجمه او تلخيص

«... د جرمني امپراطور کيزردوهم ويلهلم خپلي خبري په داسي پيش بيني پيل کړې چي ويل يې په دې څو کلونو کي بايد په هند کي د برتانيې واکمني ختمه سي. زه د خبرو دغه راز پيل ته تيار نه وم او په جواب کي مي ورته وويل چي « بلي اعليحضرته! په هند کي خلک معمولا وايي چي پر هند باندي د انګليسيانو سل کلنه سلطه بايد پای ته ورسيږي؛ نو هغه وخت را رسېدلی دی چي دوی بايد دا خاوره


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

خوشي کړي» زه باید ووایم چي دا ادعا نه سم کولای چي کټ مټ دغه کلمات به مي استعمال کړي وي ځکه چي د دغه راز کلماتو ادا کولو ته تیار نه وم خو چي څه مي ویلي دي مطلب یې همدغه وو.

امپراطور د دغه مجلس لپاره ښه تیاری نیولی وو او سره له هغه چي د یوه واکمن او د پوځ د اعلی قوماندان په حیث یې ډېر زیات کارونه درلودل دغه مجلس ته یې پوره وخت ځانګړی کړی وو او زما سره یې د پنجاب د ځینو سیمو جینډ، پټیاله او نبا په باب خبري وکړې او د هغوی ستراتیژیک اهمیت ته یې اشاره وکړه او وې ویل چي د افغانستان له لاري د پوځي حرکاتو لپاره دا سیمي ښومره اهمیت لري.

په پای کي، چي زه کله روانېدلم او ښو ګامه مي واخیستل نو امپراطور یو ځل بیا را ږغ کړل چي د افغانستان امیر ته دي زما سلامونه هېر نه سي. دا ماته د امپراطور ډېر دوستانه، غیر رسمي او خوندور سلوک ښکاره سو.

ماته یې د سره عقاب دوهمه درجه نښان راکړ. صدراعظم ب هاولیګ په ډېره مهرباني په خپل لاسلیک یو مکتوب راکړ او ژمنه یې راسره وکړه چي په هند کي به زما له فعالیتونو سره د امپراطور ټینګ ملاتړ ملګری وي.

**له جرمني تر هراته:** په۱۹۱۵ کال کي، افغانستان ته زما د سفر په باب دوه ټوکه لوی کتابونه لیکل کېدلای سي ځکه چي د نړۍ وال جنګ په هغه توپاني شرایطو کي زما د دې اوږده سفر هره ورځ یو داستان لري. خو زه به خپله کیسه لنډه کړم.

زه برلین ته د ۱۹۱۵ کال د فبروري پر لسمه را ورسېدم او د اپرېل پر لسمه ورڅخه روان سوم. زما سره جرمنی ډیپلومات ډاکټر وان هینتیګ، چي د هیات د منشي وظیفه یې درلوده، ملګری وو. د ده وظیفه زموږ د سفر ترتیبول او اداره کول وه. د ده وظیفه دا وه چي ما، روغ رمټ، تر کابله ورسوي. زموږ په هیات کي مولنا برکت الله هم راسره وو. زموږ په دغه هیات کي ډاکټر بېکر او د ډاکټر هینتیګ منشي ښاغلی روهر هم راسره ملګری وو. زموږ سره یو شمېر افریدي عسکر راسره ول. دوی جنګي بندیان ول او په داوطلبانه توګه زموږ له ډلي سره ملګري سوي وه تر څو موږ تر ځایه ورسوي او دوی خپلو کورونو ته ولاړ سي. د متحده ایالاتو څخه دوه ځنیروال افغانان هم راسره ملګري سول چي زموږ په مبارزه کي مرسته راسره وکړي....

په ویانا کي په هغه هوټل کي چي موږ اوسېدلو د مصر خدیو( والي) هم اوسېدی. موږ او هغه په دې هوټل کي دېرش ساعته سره یو ځای وو او په دغه موده کي مو څلور ځله سره ولیدل.یو ځل زما اتاق


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

ته راغی او بل ځل یي یوه زوروره شاهي غرمنۍ ډوډۍ راکړه. په خبرو کي یي د برتانیي له واکداری څخه ډېر سخت سر ټکاوه....

**له سلطان سره لیدنه:** په استانبول کي مو د اعلیحضرت ریشاد ( مطلب یي سلطان عبدالحمید دی جهاني) سره وکتل، چي د ټولي اسلامي نړۍ روحاني مشر دی. هغه د باسفورس د آبنا پر سر په یوه ښکلي قصر کي اوسېدی او دلته موږ یوې خوني ته رهنمایي سوو. په هغه کي زوړ سلطان ناست وو. زموږ سره یي د لاس روغبړ وکړ. وروسته کښېنستی او موږ ته یې هم، ده ته مخامخ، د کښېنستلو ست وکړ. دا خبري په څو مرحلو کي وې. سلطان به په ترکي خبري کولې، د تشریفاتو رییس هغه په فرانسوي ترجمه کولې او ښاغلي هینتیګ به ماته په انګلیسي ترجمه کولې. سلطان زموږ د اوږده او خطرناک سفر په لاره کي له خطرونو څخه اندېښمن وو. مګر هیله یې څرګنده کړه چي موږ په خیر او عافیت تر ځایه ورسیږو. کله چي موږ  رخصتېدلو نو سلطان ولاړ سو، تر دروازې پوري څو ګامه راسره ولاړ او خدای په اماني یي راسره وکړه.

د جنګ له وزیر او د سلطان له زوم جلالتمآب انور پاشا سره مو هم وکتل. له هغه څخه مي وغوښتل چي له خلیفه څخه د افغانستان داعلیحضرت امیر لپاره یو لیک راته واخلي. وروسته مي د هند د نوابانو او حکمرانانو لپاره د صدراعظم په امضاء یو څو لیکونه ورڅخه وغوښتل. وروسته مي له انور پاشا څخه وغوښتل چي لطفا یو ترکی صاحب منصب زموږ له هیات سره ملګری کړي. ده په ډېره مهربانی زما ټولي غوښتني راسره ومنلي. ډاکټر هینتیګ له انورپاشا څخه وغوښتل چي په ترکیه کي زموږ په لاره کي ټولو ترکي افسرانو ته لیکونه ولیکي چي د ترکیې په خاوره کي، نه په ایران کي، زموږ د سفر لپاره اسانتیاوي برابري کړي. موږوروسته خبر سولو چي په دغه وخت کي چي موږ له انورپاشا سره خبري کولې برتانیې پر ګالي پولي باندي ډېره سخته حمله روانه کړې وه. دا داسي وخت وو چي د ترکیې د امپراطورۍ سرنوشت په خطر کي وو ځکه چي که د برتانیې پوځي قواوي د دردانل آبنا ته ننوتلي وای نو دوی به هغه ماپښین استانبول نیولای سوای. څو ساعته وروسته د ترکیې حکومت د برتانیې جنګي بندیان په بازارونو کي تېر کړل او په دې توګه یې خلکو ته ښودل چي د ترکیې پوځونو په جنګ کي برۍ ترلاسه کړې دی. ما د خپل هوټل له کړکۍ څخه د هغوی ننداره وکړه. له صدراعظم حلمي پاشا سره زموږ لیدنه فقط تشریفاتي ملاقات وو. دی ډېر مهربان او موءدب سړی وو. ما طلعت پاشا او ولیعهد شهزاده هم ولیدل او له شیخ الاسلام سره مو هم لیدنه وسوه. مولنا برکت الله له هغه سره په عربي خبري کولې. د ولیعهد شهزاده په کور کي مو د مکي شریف، چي د هغه ښار د واکمن شریف له زامنو څخه وو، ولیدی. کله چي مي د سوریې د الیپو ښارته په لاره کي د ټارسوس په غرونو کي ولیدی نو حیران سوم.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

**موږ بغداد ته ورسېدلو:** زه به هیڅ وخت د مارمارا د بحیرې هغه ښکلې منظره هېره نه کړم، چي د خپل اورګاډي له کړکۍ څخه مي، چي ډېر ورو حرکت یې کاوه، ولیده. ما د اورګاډي په سټېشن کي تازه د لالا هردایال په څېر دوستانو سره په مخه ښې کړې وه. موږ روان وو چي خپل هیواد هندوستان د برتانیې له منګولو څخه آزاد کړو او سرنوشت یې خپلو خلکو ته وسپارو. مګر د طبیعت دې ښکلي تصویر داسي ورسره واخیستم لکه یو خوږ خوب چي مي لیدی او هر څه یې راڅخه هېر کړي وه.

په قونیه کي زیارتونو ته ولاړو. موږ د ټاروس په ښکلیو غرونو کي په موټرونو کي سفر وکړ ځکه چي دا وخت یې لا زړه د اورګاډو خطونو سورې کړی نه وو. الیپو ډېر ښکلی ښار وو. هغه یو وړوکی ښار وو چي ډېر زیات عربي رستورانونه یې درلودل او د خلکو څخه به ډک ول، حتی په هغه وخت او په هغه لیري لوېدلي حالت کي یې پارک او د لوېدیځ په ډول هوټل درلود.

دا یوه ښځي نوې تجربه وه. موږ الیپو ته نیژدې، د فرات په سیند کي، بغداد ته نیژدې یوې سیمي ته روان سولو. زموږ کښتی سرپوښلي وې او په دغه سیند کي د دغه راز سفرونو لپاره جوړي سوي وې. کښتیو په شپه کي حرکت نه کاوه. د ورځي په رڼا کي یې د سیند په موجونو کي حرکت کاوه. په هغو زوروړو موجونو او څپو کي سفر کول خطرناک وو. موږ څو ورځي لوی ښارونه ونه لیدل. د سیند پر غاړه مو د عربو له تورو خېمو څخه پرېمانه شیدې او کوچي واخیستل. موږ په لاره کي یو لوی مرمرین قصر ولیدی چي ټول وران سوی وو. موږ څوارلس ورځي وروسته خپل د سیند سفر ختم کړ. له کښتیو څخه کښته سولو او د آسونو په ګاډیو کي سپاره سوو، او په یوه سړه شپه کي بغداد ته ورسېدو. موږ په یوه ښکلي باغ کي په یوه ښکلي کورکي ځای ونیوی، چي جرمني دوستانو یې ترتیب نیولی وو. په ورځ کي ډېره سخته ګرمي وه او کله چي سرپوښلي کوڅې او جادې ولیدې نو پوه سوم چي دا د فیشن لپاره بلکه د ضرورت لپاره دي. په ښار کي مي له ګرځېدلو څخه ډېر خوند واخیست.

**اصفهان ته ورسېدو:** موږ په ګاډیو کي خپله لاره وهله. زه او ډاکټر هینتیګ په یوه ګاډۍ کي سپاره وو. موږ د ایران د عرونو سلسلې ته ورسېدو. دلته هوا یو څه سړه سوه. وروسته نو موږ مجبور وو چي پر آسونو باندي سفر وکړو. دلته مو مشهور رووف بېګ ولیدی. دلته یې له زیات وکمن دوو زرو عسکرو سره کمپ جوړ کړی وو. ده هم غوښتل چي افغانستان ته ولاړ سي مګر د ایران عسکرو یې مخه بنده کړې وه. د ده په کمپ کي مي د پیښور عبدالرحمن او مولوي عبدالرب ولیدل. رووف بېګ پر ما باندي ډېر مهربان وو. ډېر ژر کرمانشاه ته ورسېدلو، چي یو لوی ښار وو او د جرمني په قونسلګرۍ مو ځای ونیو. ډاکټر هینتیګ تهران ته ولاړ او زه اسهال سوم او ډیري سختي تبې ونیولم. زموږ ملګري ډاکټر ښکر مي تداوي کوله. په یوه هفته کي جوړ سوم او بیا په ګاډیو کي سپاره سولو....


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

اصفهان ته له رسېدلو سره سم بیا هم د جرمني په قونسلګري کي دېره سولو. هم مو ځای ډېر آرام وو او هم ښار ډېر ښکلی وو. له بام څخه داسي ښکارېدی لکه ټول ښار چي یو شین بڼ وي.

**په دبشتونو کي:** د سفر دغه برخه یوڅه سترې کونکي او له ستونزو ډکه وه او ماته یې په جسمي او روحي لحاظ تکلیف راکړ. نګر زه ټوله کیسه نه درته کوم او ژر مخته ځم. لومړي څو میله د آسونو په ګاډیو کي ولاړو. بیا نو پر آسونو سپاره سولو. موږ ځکه د شپې سفر کاوه چي هم د لمر له تاوه او هم د دښمن له جاسوسانو څخه ځانونه ګوښه کړو. کله چي مو یو ځل لاره ورکه کړه نو دا ډېر خطرناک حالت وو. او کله چي یوې شنې سیمي ته ورسېدلو نو په هماغه اندازه مو زړونه پر کراره سول. یو ځل خو موږ مجبور سولو چي د ماپښین له ځلورو بجو څخه کری شپه لاره ووهو، په سهار کي مو ډېر لږ استراحت وکړ او په غرمه کي مو بیا سفر پیل کړ او د بلي شپې تر ناوخته مو سفر کاوه. د انګلیسیانو او روسانو عسکرو له دوو خواوو څخه تعقیبولو. مګر د خدای ساتنه او د تورن نیدرمایر کمال وو چي موږ یې د دښمن په منځ کي تېر کړو. د تورن نیدرمایر ډوله زموږ له هیات سره په اصفهان کي یو ځای سوه او بیا مو نو ګډ سفر پیل کړ. په پای کي، که څه هم چي یو څه مالونه مو ورک کړل او په ډېر زیات اسناد ضایع سول او یو څه سرې مو هم له لاسه ورکړل خو روغ رمټ افغانستان ته ورسېدلو.

**په هرات کي:** مولنا برکت الله او یو افریدی صاحب منصب له موږ څخه مخکي هرات ته ولاړل او ګورنر ته یې زموږ د رسېدلو اطلاع ورکړه. حکومتي مقاماتو زموږ شاهانه هرکلی وکړ. موږ دولتي مېلمانه سولو. د افغانستان په ښکلي باغ کي مو خوږې مېوې او افغاني پلوونه وخوړل او چي څه ناز ممکن وو هغه مو ولیدی او د یو څه وخت لپاره مو ټولي هغه خواری هېري کړلي چي په لاره کي راباندي راغلي وې. ګورنر مو لیدلو ته راغی او موږ یې هم د خپلو اردلیانو په بدرګه لیدلو ته ورغلو. د زاړه عمر ښتن، ګورنر ډېر خوشاله سړی وو او هر وخت به یې یوه نیمه ټوکه کوله.

«د لومړی برخي پای»



د عبدالباری جهانی د نورو لیکنو لپاره ، پر عکس کلیک وکړئ



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com